په دريو وختونو کې به رسول الله صلى الله عليه وسلم مور له لمانځه څخه منع کولو او لدې چې خپل مړي پکې ښخ کړو

له عقبة بن عامر الجهني رضي الله عنه څخه روايت دى وايي: په دريو وختونو کې به رسول الله صلى الله عليه وسلم مور له لمانځه څخه منع کولو او لدې چې خپل مړي پکې ښخ کړو: کله چې لمر څرک وهي، تر دې چې ښه راپورته شي، کله چې ټکنده غرمه شي تر دې چې لمر زوال وکړي، او کله چې لمر ډوبېدو ته نږدې شي تر دې چې ډوب شي.

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د ورځې پر مهال په دريو وختونو کې له نفلي لمونځونو څخه منع فرمايلې ده او لدې چې مړي په کې ښخ کړل شي. لومړى وخت: کله چې لمر څرک وهي، چې دا يې د راختو لومړۍ شېبه ده، تر دې چې د يوې نيزې په اندازه پورته شي، چې نږدې د يو پاو وخت په کچه اندازه کېږي. او دويم: کله چې لمر د اسمان منځ ته شي، نو د ختيځ او لويديځ لور ته هېڅ سيورى نه لري، تر دې چې د آسمان له منځ نه زوال وکړي او د ختيځ لور ته سيورى ښکاره شي، نو د ماسپښين د لمانځه لومړى وخت پېل شي، او دا لنډ وخت دى چې نږدې پنځه دقيقې کېږي. او دريم: کله چې لمر مخ په ډوبېدو شي، تر دې چې ډوب شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10604